څوک چې خواړه وخوري او ووايي: (الحَمْدُ لِلَّهِ الَّذِي أَطْعَمَنِي هَذَا وَرَزَقَنِيهِ مِنْ غَيْرِ حَوْلٍ مِنِّي وَلاَ قُوَّةٍ). هغه الله لره ستاينه ده چې ماته يې دا خواړه راکړل پرته له دې چې کوم حرکت، حيله او يا ځواک ولرم، نو ټول مخکني ګناهونه به يې وبخښل شي

له سهل بن معاذ بن انس رضي الله عنه څخه روايت دی وايي چې رسول الله صلى الله عليه وسلم فرمايلي: "څوک چې خواړه وخوري او ووايي: (الحَمْدُ لِلَّهِ الَّذِي أَطْعَمَنِي هَذَا وَرَزَقَنِيهِ مِنْ غَيْرِ حَوْلٍ مِنِّي وَلاَ قُوَّةٍ). هغه الله لره ستاينه ده چې ماته يې دا خواړه راکړل پرته له دې چې کوم حرکت، حيله او يا ځواک ولرم، نو ټول مخکني ګناهونه به يې وبخښل شي".

[حسن] [ابو داود، الترمذي، ابن ماجه او احمد روايت کړی دی]

رسول الله صلى الله عليه وسلم ټينګار کوي چې څوک کوم خواړه وخوري نو د الله شکر دې ادا کړي، ځکه چې زه د الله تعالى له مرستې پرته د ډوډۍ راوړلو يا خوړلو توان نه لرم. بيا رسول الله صلى الله عليه وسلم زيرى ورکړ چې چا دا (دعا) وويله نو هغه د الله تعالى د بخښنې وړ دى، چې ټول مخکني واړه ګناهونه ورته وبخښي.

http://www.sunnah.global/hadeeth/ps/show/5431